مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۳/۲۸

# خاطرې

نرانو!
وه نرانو!
دوزخ ده ستاسو نارینتوب لاندې د لويې واکمنی جغرافيه
چې ښځينه يې په خپل ذهن کې
په ويره، ويره
ستاسو له سلو زر کلنو خاطرو جوړوي
خو د تورسترګو،
انارتيو پېغلو
هغه چې شونډې يې له شاتو،
سپينې غاړې يې شيدو نه جوړې شوې
او شراب ويشي
دغه جنت
ستاسو له ذهنه زيږېدلی باغ دی
چې له ښځمنو نه دا ستاسو د زرګونو کاله وړاندې تصور کړلی.
نرانو!
وه نرانو!
اې د تاريخ تپو تيارو ته په سجدو پرېوتيو
که سبا راشي
لمر به ډېرې سترګې وبرېښنوي
تاسو به هم له رڼا خوند واخلئ!
خو ګورئ!
غوږ ونيسئ!
تاسو به نه ياست د رڼا څښتنان
هو!
دا به ښځې وي،
چې خپلو پلوونو نه څه وړانګې په خيرات درکوي.
تاسو به ډېر خلک وژلي وي د «نر غونډې!»
تاسو به ډېرې بورې کړې وي،
«د شېر غونډې،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

بهادر غونډي»
نران به یاست،
زمریان به یاست،
غازیان به یاست
د مېړنتوب له قوده برېتو به مو ځاځي وینې
خو «انسانیت» پسې د ستړیو مساپرو د زخمي لارو مشال به نه شئ
یو تک شین شال به نه شئ
د بورو، کونډو، ورارو
د جړ پنجړو
او په سپېرو خاورو بادکړیو وینتو
د ماشومانو د خوړو ـ خوړو خوبونو اتلان به نه شئ
که هر څه شئ،
د آزادۍ پیامبران به نه شئ!
تاریخ عجب بدلیږي
ښايي، تاریخ به باورونه او ننګونه هم چپه واړوي
څه داسې ورځ به راشي،
چې میندې وژاړي د (زوی) په زوکړه
پلرونه وشرمیږي،
چې بیا یې کور کې (نارینه) پیدا شو.
د انسانانو د هنر په لاشعور کې ولې
ملائیکې دي انځور شوې لکه ښکلې ښځې
چې دوه وزرونه لري
د «آزادۍ» په شانې؟
مګر شیطان نر دی
«اور» او «زنځیر» ورسره.
نرانو!
وه نرانو!
څومره یاستئ؟
چېرته یاستئ؟
د دوزخونو د مارانو، لړمانو، ښامارانو جنسیت ولې نارینه یادیږي؟
او په جنت کې وي بیا (حورې) ناستې؟
دوزخ د ښځو او جنت له نارینه ذهنه ریښه اخیستې
ښځو ته هغه ځای دوزخ ښکاریږي
چې نارینه وربانډې واک چلوي
چې نارینه په کې د اور په لوغړن نارینتوب قهر ښندي
او نارینه
چې هرځای ښځې په کې ښکلې وي،
مرئ کې یې اوبه ښکاریږي
هلته جنت دی، هلته سوله ده او ژوند ښکلی دی.
نرانو!
اې نرانو!
ښه ورته وګورئ په برندو سترګو!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تاسو له ښځو څه تصویر اخیستی؟
او له خپل ځان نه مو عجیبه خاطره پریښي ده.
دوزخ د نرو واکمني ده،
او د ښځو د لرغوني حافظې ژورو کندو کې لمبې وهي لا
او
جنت
ښځو ته د ټولو نارینه وو لاشعور کې
د لاسو د غځولو هوس.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ